AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهنمل دکتور اندوس رحمت خواکمن ۲۰۲۰/۱۲/۲۲

# د لعلونو پر خزانه پروت وږی ملت

د لیکني انګیزه: په یوه بهرني تلویزیوني کانال کې د شوکاني (تالک) د منرال په هکله د یوه بهرني خبریال مصور رپوټ .

هسی خو سرسری ټول پوهیږو چي د افغانستان غمیزه او اوږده جګړه یوازی د ایدیالوژیو جګړه نه ده. که ژور فکر وشي او جنجالونه راوسپړل شي نو خبره د ښکیلاک تاریخ او تیرو ټولو تاریخي پیښو او جګړو ته رسیږي.
موږ پوهیږو چي څرنګه، چیری او کله بشری جګړی پیښی شوي او علتونه یې څه وو؟
دومره ویلای شو چي د افغانستان وروستي ځلوینښت کلنه غمیزه هم، د نوموړي هیواد د ستراتیژیک اهمیت او طبیعي زیاتو او نادرو زیرمو له امله، یوه جیو ایکونومیک او جیو پولیتیک شخړه او لانجه ده .
په دغه لنډه لیکنه کې زموږ د هیواد پر بدمرغیو د جګړي پر عواملو او د وطن د رنګارنګ شتمنیو پر چور او لوټ زیاتي خبری نه شی کیدای ، خو غواړم چي یوازی د افغانستان د یوه قیمتي منرال ارزښت ته، چي اروپایي او امریکایي بازارونو ته یې لار موندلې او د دغو هیوادونو اړتیاوی یې پوره کړي د لوستونکو پام راوګرځوم.
ددی پاسته ، مهم او کټور منرال چي تالک یا شوکاني نومیږي ارزښت او اهمیت دومره زیات دی،چي له اروپا یو خبریال د ننګر هار تر شیرزادو ځان وررسوي او غواړي چي د تالک اصلي ټاټوبی و مومي. خلکو ته ووایي چي دا او دی ته ورته نورې الاهي شتمنی د ځمکي پر مخ په یوه داسی ملک کې لکه لعلونه خوري وری پرتي دي، چي ملت یې په خیټه نه دی موړ او له جګړی او بد مرغیو کړیږي.
خبریال په یوه تلویزیوني کانال کې د راپور له خپرولو دمخه له یوی راډیو سره یوه مرکه هم لرله. نوموړی په خپله مرکه کې د ځنو پوښتنو په ځواب کې وویل چي، د غه کانی مواد د افغانستان له رنګارنګو لسګونو غوره قیمتي کاني توکو او طبیعي زیرمو څخه یوازی یو ډول دی .
دهغه په وینا که د نوموړی هیواد له طبیعي شتمنیو سمه ګټه واخستل شي، نو په نږی کې به د ډیروشتمنو هیوادونو په ډله کي ودریږي. د خبریال په وینا چي اوس شوکاني د ملیونونو ډالرو په ارزښت له ننګرهاره پاکستان ته لیږدول کیږي او بیا له هغه ځایه د پاکستان په نوم، ځنو اروپایی هیوادونو، امریکا، چین او نورو ته صادریږي.
د نوموړی په وینا افغان ولس ته یې دومره خیر نه رسیږي او زیاتره ګټه یې ځنی د دولت دننه فاسدی مافیاي ډلی، سیمه ییز ټوپکسالاران او وسله وال مخالفین ترلاسه کوي.
په دغه مستند تصویري رپوټ کي ، خبریال هڅه کړی چي هغه شوکاني یا تالک چي اروپایي بازار ته رارسیږي او دلته په لسګونو درملو ، غذایي توکو او د سینګار په سامانونو لکه میکپونو او نورو کي ورنه کار اخستل کیږي، اصلی ټاټوبی ومومي.
نوموړی د معلوماتو پر بنسټ له کابله جلال آباد ته د تالک یا شوکاني فابریکی ته ورځي. هلته د فابریکي له له یوه جارواکي سره تر خبرو وروسته، ځان شیرزادو ته رسوي او کان ته نیږدی ورځي. خو څرنګه چي خپله د کان ځای دومره امن نه دی، نو خپل موبیل ټلیفون یوه ځایی کارکوونکي ته ورکوي، تر څو د شوکاني په کان کی د کار بهیر عکاسي کړي.
له ځنو کارکوونکو سره خبری کوي، بیا بیرته ښار ته راځي، له یوه تن د غټو لاریو له چلوونکی سره چي شوکاني لیږدوي خبری کوي، د ننګرهار د ولایتی شورا له یوه تن سره، یوه ځایي خبریال سره، همدارنګه د کانونو په برخه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

کي له يو بل چاړواکي سره خبرى کوي. بيا د شوکانې په بار لاری کې تر تورخمه ځي او دا ټول حالت په يوه مستند فلم کې تنظيموي .
همدارنګه په دی مصور راپور کې له يوه برتانوي سره چې د ستلايت له لياری د فضايی عکسونو له مخي د افغانستان ځمکه څاري او د کانونو حالت څېړي هم خبرى کوي .
په پاى کې ديوه اروپايی هېواد د شرکتونو له څنو مسؤلينو سره د شوکانې په هکله پوښتنې کوي ، چې دوی دا شوکانې له کومه ځايه او له کوم هېواده ترلاسه کوي. هغوی ورته وايی چې دا شوکانې له پاکستانه ترلاسه کوي.
څنې نور غوره ټکي هم شته چې د خبريال په راپور کې ورته ګوته نيول شوي ده
۱ ــ په کان کې په کارکوونکو کې کوچنيان هم تر سترګو کيږي. په درنو او خطرناکو کارونو کې د کوچنيانو ګمارل، د کار د بشري قوانينو له امله يو ناروا عمل دی او خبريال ورته ځانګړی اشاره کوي.

۲ ــ د يوه کارکوونکي په وينا چې د خبريال پوښتنه ځوابوي، وايي چې دا يو درونده کار دی زياتره کار په کولنګونو کوي، ښه کاري وسايل او کاري مصؤنيت نشته، کله کله له غره ډبری خويږي، کارکوونکي ژوبلوي او د مرګ پيښي هم رامنځ ته کوي.

۳ ــ کان په نا امنه سيمه کې دی، د دولت وسله وال مخالفين هم خپل باج اخلي، او دا پيسي په جګړو لګيږي

۴ - د کانونو د ويستلو دولتی قراردادیان هم دولت ته سمه ماليه
نه ورکوي او په دولت کې فاسده کړی له دغو غيری فني او څنو غيری قانوني کيندنو ګټه ترلاسه کوي

۵ ــ دا ښايسته او ګټور منرال، تالک يا شوکانې له افغانستانه پاکستان ته وړل کيږي او له پاکستانی مهر او ټاپي وروسته په دوه چنده بيه د کراچی بندر له لياری بهر ته صادريږي، پاکستانی نوم ځان ته خپلوي او وياړ يې هم پاکستان ترلاسه کوي.

۶ ــ بهرني شرکتونه يې هم د پاکستاني تالک په نوم پيژني، خبر نه دي او يا نه غواړي خبر شي چې دا د افغانستان شتمني ده او له يوی جنګځپلی سيمي راوړل کيږي.

۷ ــ په پاى کې د اروپايی سياستوالو او حکومتی چاړواکو پام دی ته را اړوي، چې په شرکتونو فشار راوړل شي، ترڅو د تالک يا شوکانې په واردولو کې قوانين په نظر کې ونيسي او د شوکانې يا تالک په کان کې کاري مصؤنيت، قانوني استخراج او دا چې پر جګړه کې ښکيل وسله وال مخالفين تری ګټه ترلاسه نکړي، باوري شي.
زما په اند چې د يوه بهرني خبريال دا مستند راپور د دری ژبی د متل ( مشت نمونهٔ خروار) يوه ښه بيلګه ده. زموږ ملت پر خپله ځمکه بيشميره شتمنی، لعلونه، د سرو او سپين زرو خزانی او په لسګونو نور کاني توکي لري، چې زرګونه کلونه زموږ د خاوری په خيټه کې خوندي و، خو د جګړی او بهرنيو يرغلونو په کلونو کې د سيمه ييزو قاچاق وړونکو، جنګسالارانو، يو شمير فاسدو دولتي چاړواکو، څنو دښمنو ګاونډيانو او وطن پلورونکو منګولو ته لويدلي، بی له دی چې د افغان ولس لپاره د يوه ډاډمن کار او ګټی وسيله شي، بی له دی چې له نړيوال نورم سره برابر په قانوني توګه استخراج شي، په ډيره ارزانه او غيری فني توګه دځمکي له سيني راسپړل کيږي، څنی يې په قانوني او څنی په غيری قانوني توګه کاونډيو هېوادونو او له هغی لياري بهرنی نړی ته وړل کيږي .ولس خبر دی چې د بدخشان لعلونه، لاجورد، زمرد او نور قيمتي منرالونه په تيرو څو لسيزو کې په غيری فني توګه کيندل کيږي، او قاچاق کيږي. همدا سی د هيواد په ګوټ ګوټ کې نور کاني قيمتي توکي، طبيعی ځنګلونه اونوری شتمنی د لوټ او قاچاق سره مخ دي .
ډيره به ښه وي چې که چيرې زموږ د کانونو شتمني د ملت په درد نه خوري، سيمه ييز جنګسالاران او وسله وال مخالفين يي د جګړی د اوږدولو او ګټلو لپاره کاروي، يا په ډيره ارزانه بيه د څنو فاسدو چاړواکو، مافيايی کړيو او بی انصافه سوداګرو جيبونو ته لويږي، نو ښه به دا وي چې لومړی دولت په بشپړه توګه د قانونی او معياری کيندنو، رښو معياري قراردادونو، کاري مصؤنيت او امنيت زمينه برابره کړي او بيا د کانونو استخراج پيل کړي .
که دا نه شي کولای نو د نورو کانونو د کيندنو او قراردادونو مخه دي ونيول شي. ولس او دولت دی په ګډه دناقانونه کيندنو او قاچاق اساسي مخنيوی وکړي. تر څو چې سراسري سوله نه وي ټينګه شوي، د کانونو قرادادونه به هم په معيار برابر نه وي، کيندنی به يي هم په غير فنی ډول ترسره کيږي، ضايعات به يي هم زيات وي. کارکوونکي به يی هم روغتيايی بيمه، د معلوليت، معيوبيت او مرګ په حالت کې د کورني د عايداتي تأمين قانونی مصؤنيت نه لري، زياتره به قاچاق کيږي، دولت او ولس ته به يي هم لږه ګټه رسيږي. قراردادیان به يي هم زياتره جنګي قوماندانان او سيمه ييز هغه زورواکان او قاچاق وړونکی وي چې حلالی پيسي نلري او د ظلم، غلا، فساد او خيانت په پيسو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

مليونران شوي، پانګوال شوي او سوداګر شوی دي. فاسد او بدې خوړونکي چارواکي به ورسره شريک وي او ګټې به په خپلو منځونو کې ويشي. ولس به بيا هم له دې ملي شتمنۍ بې برخي، وږی او بې وزلی وي .
په کار ده چي په هغه سيمو کې چي کانونه استخراجيږي، سيمه ييزو اوسيدونکو ته د ژوند اسانتياوې، اړين خدمات او د کار او ګټې مناسبه زمينه هم برابره شي. په پای کې له خبريال مننه کوم چي په اروپايي بازارونو کې يې د ښايسته تالک سرچينه په مستنده توګه افغانستان ته رسولي او خلکو ته يې سپينه کړې او روښانه کړی چي د لويديځ بازار ته راغلي تالک د پاکستان نه دی، بلکه د يو جګړه ځپلی هېواد افغانستان دي .
په محصلينو او نورو څېړونکو غږ کوم جي د کتابتوني متود تر څنګ د څېړنی په ساحوي متود هم تمرکز وکړي. په خپلو مونګرافونو او نورو اکادميکو څېړنو کې سيمه ييزی ستونزي په سمه توګه وڅېړي، د غوره او تازه کره معلوماتو په زياتوالي او پوهاوي کې مرسته وکړي .
څېړونکي کولای شي د شيرزادو، د ننګرهار د نورو سيمو او کونړ د شوکاني په کانونو څېړني وکړي. دی ته ورته نور کانونه چي په ټول هيواد کې پراته دي، همدارنګه داسی نور د ورځي موضوعات د خپلو مسلکونو په عينکو کې وګوري او د بيلابيلو مسلکونو خاوندان يې بيلابيلي برخي و څېړي.
همدارنګه هيله لرم چي رب مو په وطن کې سوله ټينګه کړي، دښمنان مو د رڼايی او پوهی مرکزونه او ښوونځي د رڼا او پوهی خپرولو ته پريږدي، تر څو دا ولس خپله ګټه او شتمني وپيژني او په خپلو فکرونو او لاسونو يې د ځان په ګټه وکاروي .
د يادولو وړ ده چي د ننګرهار د شيرزادو د جګړو په هکله چي زياتره د شوکاني پر کان د ولکي پر سر پيښيږي ، د انعکاس راديو تلويزيون هم په زړه پوری راپور خپور کړی دی.
که جګړه پای و مومي نو دا د شتمنيو او خزانو وطن به هرومرو د شتمنو هېوادونو په ليکه کې ودريږي. ځکه چي دا هېواد د بيشميره پراخو طبيعي زيرمو څښتن دی.
کلونه پخوا په دې ملي ترانه کې هم داسی ياد شويدی:

**ای زما وطنه د لعلونو خزاني زما**
**ستا هره دره کې دي د تورو نښاني زما**
**ای زما وطنه،**
**ای زما وطنه**

پوهنمل دکتوراندوس رحمت ځواکمن
20- 12- 2020


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکي په ځير و لولـئ